څېړندوی عبدالقهار عزيزي
فرهاد واحدي
تسل حبيب

# د شتمنۍ د څښتن تمويل

# Working Capital Financing

***Assistant Prof. Abdulqahar Azizi***

## Abstract

Financing of Working Capital is a share facility of both conventional and Islamic banking systems. Both banks provide this type of financing; however, in a different manner. The difference is interest or usury. Interest is the basic foundation for conventional banks, while Islamic banks prohibit it. Working capital financing is a loan, which is provided by conventional banks against a specific interest rate. Nevertheless, Islamic banks do not provide it in exchange for usury; instead, they provide the loan on the basis of a Musharikah –partnership- or Mudhariba -silent partnership- contract with a business concern. Bank is just one side of the contract as a partner in the agreement, although business concerns play a bilateral role: on the one hand, as a partner with investment of their own capital; on the other hand as a Mudharib -silent partner- with product activities. Finally, Islamic banks provide the services too, and get permissible gain instead of usury .

## لنډیز

د شتمنۍ د څښتن تمویل د دودیزو او اسلامي بانکونو د خدماتو یو مهم ډول دی. دواړه ډوله بانکوالۍ سیسټمونه دا ډول خدمات وړاندې کوي، خو د دوی ترمنځ اساسي توپیر هم شته. هغه توپیر د سود دی. سود د دودیزې بانکوالۍ اساس دی، په داسې حال کې چې په اسلامي بانکوالۍ کې بیا سود ممنوع دی. دا ډول خدمات اساساً یو ډول قرضه ده چې د دودیزو بانکونو له لوري تصدیو ته ورکول کیږي او سود پرې اخلي. په اسلامي بانکوالۍ کې دا ډول قرضه د سود په بدل کې نه ورکول کیږي، بلکې په لنډمهاله توګه د یوه تړون له مخې بانک له تصدۍ یا شرکت سره ځان شریکوي یا د مضاربت تړون کوي. بانک په دې تړون کې یوازې شریک وي. تصدۍ یا فابریکه دوه ګونی رول لوبوي: یو اړخ ته د خپلې پانګې په کارولو سره شریک او بل اړخ د تولیدي کار په ترسراوي سره د مضارب رول لوبوي. نو په اسلامي بانکوالۍ سیسټم کې هم دا ډول خدمات وړاندې کیږي او د سود پرځای حلاله ګټه ترې لاسته راوړي.

## سریزه

د شتمنۍ د څښتن تمویل د بانکونو او کمپنیو ترمنځ یو ډول تړون دی. ددې تړون پرمټ شرکت خپلې اړتیاوې پوره کوي او بانک د ځانګړو طریقو له لارې ګټه ترلاسه کوي.

دا ډول تړونونه هم په اسلامي او هم په دودیزو بانکونو کې ترسره کیږي. د اسلامي بانکونو طریقه د دودیزو بانکونو له طریقې سره توپیر لري. له هغه ځایه چې په دودیزو بانکونو کې هرڅه د سود پر مټ روان وي، په اسلامي بانکوالۍ سیسټم کې هڅه کیږي چې د سود مخنیوی وشي او پر ځای یې په اسلامي طریقو د ګټې ترلاسه کولو لارې چارې ولټول شي. همدې موخې لهپاره اسلامي بانکونو هڅه کړې ده چې بېلابېل خدمات وړاندې کړي او د دغو خدماتو له ډلې یو هم د شتمنۍ د څښتن تمویل دی.

**د موضوع اهمیت:** دا چې په نړۍ کې دودیز بانکونه د اسلامي بانکونو په نسبت ډېر دي او اسلامي بانکوالي ډېره محدوده او نوې ده، نو اړینه ده چې په ځینو هغو خدماتو چې دا دواړه ډوله بانکونه یې وړاندې کوي، رڼا واچول شي، ترڅو یې توپیرونه او ښېګڼې روښانه شي. نو په همدې خاطر دا موضوع مهمه ده.

**د موضوع موخه:** هدف دا دی چې د اسلامي بانکوالۍ هغه طریقه چې د شتمنۍ د څښتن د تمویل لپاره یې لري، روښانه کړل شي ترڅو د عامو خلکو باورورباندې زیات شي.

**د څېړنې پوښتنه:** آیا اسلامي بانکوالۍ سیستم کې د شتمنۍ د څښتن تمویل شتون لري؟

**فرضیه:** ددې پوښتنې لپاره ساده ځواب دا دی چې په اسلامي بانکوالۍ سیستم کې هم لکه د دودیزو بانکونو په څېر په عین ډول د شتمنۍ د څښتن د تمویل خدمات شتون لري.

**د څېړنې میتود:** دا څېړنه تحلیلي-توصیفي ده او د اسلامي بانکوالۍ او دودیزو بانکونو یو ځانګړی خدمت په کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

دا څېړنه د پانګې په پېژندنه پیلیږي. ددې سربېره د پانګې بېلابېل ډولونه روښانه کوي او ترڅنګ یې په دې بحث کوي چې بانکونه په عمومي ډول کوم ډول قرضې ورکوي. د دغو قرضو په اړه د اسلامي بانکونو خدمات هم په کې روښانه کیږي. دغه راز په دودیزو بانکونو کې  د شتمنۍ د څښتن تمویل یا د کارنده شتمنۍ ملاتړ لپاره د قرضې ورکړه او ورپسې په اسلامي بانکونو کې د دې ډول خدمت څرنګوالی هم په ځان کې رانغاړي. بالاخره، په پای کې د موضوع پایله او وړاندیزونه دي او په مأخذونو راټوله شوې ده.

**لومړی: د پانګې پېژندنه**

پانګه د عامو خلکو له انده نقدو پیسو یا په بانک کې جمع شوو پیسو ته وایي، په د تولیدوونکو لپاره ماشینونه،  فابریکې، سامان آلات، ... پانګه ده؛ مګر په

اقتصاد کې بيا هغه شتمني ده چې د نوي عايد د لاسته راوړلو لەپاره استعماليږي. په هر حال، دا موضوع د اقتصاد د علم بحث دی او دلته يې ډېرو تعريفاتو څخه صرف‌نظر کيږي.

**دوهم: د پانګې ډولونه**

پانګې په دوه ډوله دي، يو يې ثابته (Fixed Capital) او بل يې کارنده يا په جريان کې (Working Capital) پانګه ده.

ثابته پانګه هغه پانګه ده چې د سوداګرۍ په اوږدمهاله پانګونو کې کاريږي. د بېلګې په توګه، د دايمي شتمنيو رانيول. کارنده پانګه بيا هغه پانګه ده چې د سوداګرۍ اړوندو ورځنيو اړتياوو د پوره کولو لەپاره اړينه ده. د بېلګې په توګه، د پور ورکوونکو (creditors) تاديات، د کارکوونکو معاشات، د اومو موادو رانيول او نور. دا په اسانۍ سره په نقدو پيسو بدليدای شي. له همدې کبله، لنډمهاله پانګه هم ورته ويل کيږي. ( Working Capital, chapter ١٠, ١٥٠ p)

د ځينو په اند د کارنده پانګې معنی موجوده شتمني ده. د ځينو نورو په اند د موجوده پانګې مجموعه د کاروبار کارنده پانګه ده. د شوبين «Shubin» په وينا، کارنده پانګه هغه اندازه پيسې دي چې د يو شرکت عملياتي لګښتونو لەپاره اړينې دي. د جينستېنبرګ «Genestenberg» په وينا، کارنده پانګه د يوه شرکت هغه موجوده پانګه ده چې د کاروبار په عادي جريان کې له يوه حالت څخه بل حالت ته اوړي. د بېلګې په توګه، له نقدو څخه موجودو ته، له موجوده څخه مطالباتو ته او له مطالباتو څخه بېرته نقدو ته. ( Working Capital, chapter ١٠, ١٥٠ p)

**دريم: د کارنده پانګې (Working Capital) د لګښت ځايونه**

کارنده پانګه د يو شرکت اړينه برخه ده. هر شرکت بايد مشخص مقدار کارنده پانګه ځان لەپاره وساتي ترڅو خپلې ورځنۍ اړتياوې ترې پوره او لنډمهاله

مکلفیتونه پرې ترسره کړي. کارنده پانګه د لاندې مقاصدو لهپاره اړینه ده. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵٤ p)

**۱. د اومو موادو او پرزو رانیول:** د تولیدي بهیر اساسي برخه، اومه مواد دي. دا باید د شرکت د اړتیا مطابق په خپل وخت وپېرل شي. له همدې کبله، هر شرکت ځان لهپاره مشخص مقدار کارنده پانګه ساتي ترڅو اومه مواد، عناصر او پرزې پرې راونیسي. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵٤ p)

**۲. د حقالزحمو او معاشونو ورکړه:** د کارنده پانګې بله برخه د کارکوونکو او کارګرانو معاشونو او حقالزحمو ته ځانګړې کیږي. د تادیې دوراني اسانتیاوې کارکوونکو ته دا وړتیا ورکوي چې ښه کار اجراء کړي. نو، یو شرکت د کارنده پانګې کافي اندازه دې لهپاره ساتي چې حقالزحمې او معاشات ترې اداء کړي. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵٤ p)

**۳. ورځني لګښتونه:** یو شرکت ته ضروري ده چې په ورځني ډول د خپلو فعالیتونو لهپاره بېلابېل مصارفات پوره کړي لکه تېل، برېښنا، د دفتر لګښتونه او نور. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵٤ p)

**۴. د کریډیټ یا اعتباري تعهداتو وړاندې کول:** سوداګریز شرکت مسؤولیت لري چې خپل مشتري یا پیریدونکي ته اعتباري یا د کریډیټ اسانتیاوې چمتو او لنډمهاله تعهدات ترسره کړي. نو شرکت باید کافي اندازه کارنده پانګه وړاندې کړي. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵٤ p)

دا ډول پانګه باید نه زیاته او نه ناکافي وي. که چېرته زیاته وه هم ستونزې زیږوي او د کموالي په صورت کې خو څرګنده خبره ده چې ستونزې زیږوي. د زیاتوالي په صورت کې غیر ضروري اومه مواد او توکي ډېروي او ګټه راکموي او د کمښت یا ناکافي والي په صورت کې ددې لامل ګرځي چې په عمده ډول د خپلې اړتیا وړ توکي ونهشي پېرلی، شرکت خپل عملیاتي پلانونه نه شي پلي کولی او اټکل وړ ګټه نشي ترلاسه کولی او د نورو ستونزو سربېره د شرکت ټولیز فعالیتونه راکموي. د کارنده پانګې په تشخیصوونکو عناصرو کې

د سوداګرۍ ماهیت، د تولید جریان، د سوداګرۍ جریان، د تولید پالیسي، د کریډېټ پالیسي، وده او پراختیا، د اومو موادو شتون او د ګټې وټې ظرفیت شامل دی. کارنده پانګه د کریډېټ کرښې (Line of Credit)، پور ترلاسه کوونکو حسابونو د قرضو (Accounts Receivable "AR" Loan)، فیکټورینګ (Factoring)، موجوده قرضو (Inventory Loan) او مهالنیو قرضو (Term Loan) په بڼه ترلاسه کېدای شي. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱۵۵ p)

**څلورم: د کارنده پانګې (Working Capital) سرچینې**

سوداګریز بانکونه د کارنده پانګې د قرضو په ګډون بهرنیو سوداګریزو قرضو لپاره د تمویل لویې سرچینې دي او دوی د پراخې کچې ډیبټ خدمات وړاندې کوي. د بانکي اتحاد پر مټ، سوداګریز بانکونه څو هېوادیزې اداري ګرځي چې مخ په زیاتېدونکي توګه پور ته د اړتیا لرونکو او محدودو خطراتو سره مخ کوچنیو تشبثاتو لپاره د پورونو په برابرولو باندې تمرکز کوي. په نتیجه کې، د کارنده پانګې د ډیبټ بدیله منبع لا مهمه ګرځي. سپما بانکونه او د سپما پور ورکوونکي په زیاتېدونکي توګه کوچنۍ کاروباري قرضې ورکوي او په ځینو سیمو کې دوی مهمې کوچنۍ تصدۍ یا شرکت او د املاکو سوداګریز پور ورکوونکي دي. که څه هم چې د سپما بانکونه لږ شمېر تولیدات وړاندې کوي او ښايي غیر مروجو اقتصادي پراختیایي قرضو سره لږ بلد وي، مګر دوی ډېر کله کوچنۍ قرضې او ډېر شخصي خدمات وړاندې کوي.(The Basics of Business Finance, P۱۰۱)

د کارنده پانګې اړتیاوې له اوږدمهاله او لنډمهاله سرچینو څخه پوره کېدای شي. هره سرچینه تر یوې کچې ښېګڼې او محدودیتونه لري. د کارنده پانګې کارول په بېلابېلو پړاوونو کې تفاوت لري. (Working Capital, chapter ۱۰, ۱٦۰ p) په لاندې جدول کې یې دواړه ډوله اوږدمهاله او لنډمهاله سرچینې روښانه کیږي.




لکه څرنګه چې په پورته چارټ کې لیدل کیږي، بانکي قرضې او کریډیټونه د یوه شرکت د کارنده پانګې یا شتمنۍ د ښنبتن لهپاره یوه مهمه منبع ګڼل کیږي. په لنډ مهال کې د اړوند شرکت اړتیاوې ورسره پوره کیږي او د شرکت د اقتصادي ودې د غوړېدا لامل ګرځي.

د کارنده پانګې د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د بانک له لوري تمویل د یو سوداګریز شرکت مهمه برخه ده. بانک یو سوداګریز شرکت تمویلوي ترڅو د یاد شرکت اړتیاوې پوره کړي. دې چارې لهپاره بانکونه کمېټې تشکیلوي. دا کمېټې بانکونو ته د خپلو موندنو راپورونه او سپارښتنې وړاندې کوي ترڅو د بانکونو د تمویل سیاست منظم کړي.

لکه څرنګه چې په پورته چارټ کې ښکاري، کارنده پانګه د بېلابېلو لارو څخه تمویلیدای شي. په دې تمویل کې اوږدمهاله او لنډمهاله وجهې زېرمې او سرچینې شاملې دي. سوداګریز بانکونه د کارنده پانګې یو له تمویلوونکو څخه دی چې په لاندې ډول څېړل کیږي.

**پنځم: سوداګریز بانکونه**

سوداګریز بانکونه د صنعت او سوداګرۍ په برخه کې د کارنده پانګې د تمویل (working capital finance) تر ټولو لویې سرچینې دي. تصدیو، شرکتونو او

کاروباريانو ته د قرضو ورکړه يې له اساسي فعاليتونو څخه دی. د بانکي پور ترلاسه کول کومه اسانه طريقه نه ده، څکه د پور ورکوونکي بانک دفتر به کيدای شي د پور اخيستونکي د مالي وضعيت او د هغه د راتلونکو پلانونو په اړه ببلابېلې پوښتنې وکړي. په ورته وخت کې بانک غواړي چې د پور اخيستونکي کاروباري پرمختګ هم وڅاري. مګر ښه خبره دا ده چې د پور اخيستونکو د ونډو قيمت ورسره لوړيږي. ( Working Capital Management: p ۳۹)

**شپږم: د بانکي تمويل ډولونه**

بانکونه د مناسبو قرضو ببلابېل ډولونه وړاندې کوي چې د يو شرکت له ځانګړو اړتيا سره سمون خوري. د قرضو ببلابېل ډولونه عبارت دي له:

۱. قرضې (Loans)

۲. تر حساب زيات ويستل (Overdrafts)

۳. نقد اعتبارات (Cash credits)

۴. د مالي اسنادو پېرل يا تخفيف (Purchase or discounting of bills)

۵. د کريډيټ ليک (Letter of Credit)

٦. بانکي ضمانت (Bank Guarantee) اوس يې هر يو تر لنډې څېړنې لاندې نيول کيږي.

**۱. قرضې (Loans)**

قرضه هغه مخکې ورکړه ده چې د بانک له لوري پور اخيستونکي ته د ضمانت په بدل کې ورکول کيږي. قرضه، غوښتونکي ته په نقد ډول يا د هغه/هغې د حساب له لارې ورکول کيږي. په عمل کې د هغه/هغې حساب ته د کريډيټ د زياتولو له لارې اداء کيږي. په دوديزو بانکونو کې، د پور د اجرائيوي ضمانت د پيل له نېټې څخه په مشتري باندې سود پيليږي. پور اخيستونکی به ياد سود په يو وار يا په قسطونو کې ورکوي. دا ډول قرضې عموماً د يو کال په مخه ورکول کيږي. (Working Capital Management: p ۳۹)

### ۲. تر حساب زیات ویستل (Overdrafts)

دا یو ډول ترون دی چې د پور اخیستونکي او بانک ترمنځ کیږي او له مخې یې پور اخیستونکی د معین وخت په جریان کې په خپل اکاونټ کې له شته حساب څخه د ډېرو (البته تر ټاکل شوي حد پورې د) پیسو د ویستلو اجازه ترلاسه کوي. دا ترون د پور اخیستونکي له نقطه نظره انعطاف منونکی ترون دی، ځکه پور اخیستونکی کولی شي چې پیسي وباسي او بېرته یې اداء کړي البته هر وخت یې چې زړه وغواړي، خو د شرایطو مطابق. سود په هغه کچه نه اخیستل کیږي چې بانک د پیسو ویستلو د اعظمي حد په توګه ټاکلی وي، بلکې د ورځني بیلانس مطابق اخیستل کیږي. خو بانک ځینې محدود لګښتونه هم اخلي. (Working Capital Management: p ۳۹)

### ۳. نقد اعتبارات (Cash credits)

دا په هند کې د کارنده پانګې د تمویل ډېره مشهوره سرچینه ده. نقدي اعتبارات داسې یوه اسانتیا ده چې بانک پور اخیستونکي ته اجازه ورکوي ترڅو د محسوس یا پام وړ ضمانت په بدل کې تر منظور شوي حد پورې پیسې له خپل اکاونټ څخه وباسي. پور اخیستونکی اړ نه دی چې منظور شوې اندازه ټولې پیسې وباسي، بلکې پر ځای یې د خپلې اړتیا وړ اندازه ویستلی شي او اضافه یا مازاد (surplus) پیسې بېرته په خپل اکاونټ کې اېښودلی هم شي. سود د واقعي استعمال شوو پیسو تر کچې اخیستل کیږي او ترون کوم لګښتونه نه لري. دا ډول ترون د پور اخیستونکي له انده د کارنده پانګې یوه انعطاف منونکې سرچینه ده. ( Working Capital Management: p ۳۹)

### ۴. د بیلونو پېرل یا تخفیف (Purchase or discounting of bills)

دا د پېر او پلور د معاملو اړوند بیلونه دي چې د توکو پلورونکی یې د توکو له اخیستونکي څخه ترلاسه کوي. کیدای شي دا بیل یا سند یا هم صفا بیل وي. کله چې دا بیل د پیرونکي له خوا تایید شي، د بیل لېږدونکی

(پلورونکی) بانک ته ځي او تخفیف غواړي یا یې پلوري. هغه وخت چې د بیل لېږدونکي لەپاره د کریډیټ اندازه د قناعت وړ وي، بیا ورپسې بانک د مشتري حساب ته د پیسو د لېږد له لارې یا بیل پیري یا هم تخفیف ورکوي. د مشتري حساب ته د لېږدول شوو پیسو اندازه به د بیل له اندازې کمه وي. د بیل د نېټې د پوره کېدو پر مهال، بانک یاد بیل د بیل قبلوونکي ته د تادیاتو په خاطر ورکوي. (Working Capital Management: pp ۳۹-٤۰)

**۵. کریډیټ لیک یا اعتبار لیک (Letter of Credit)**

اعتبارلیک یو لیکلی سند دی چې د پېرېدونکي بانک (Buyer Bank) له لوري د پېرېدونکي په غوښتنه او د پلورونکي په خوښه صادرېږي. په دې ډول سند کې پېرېدونکی بانک پلورونکي ته ژمنه ورکوي، که پېرېدونکي د توکو قیمت اداء نه کړ، بانک تر ټاکل شوې اندازې پورې یادې پیسې اداء کوي. (Working Capital Management: p٤۰)

**٦. بانکي ضمانت (Bank Guarantee)**

بانکي ضمانت یو لیکلی تړون دی چې د مشتري په استازولۍ د بانک له لوري ورکول کیږي. ددې ضمانت په صادرولو سره، بانک د تادیې هغه مسؤلیت، په اصطلاح هغه مشتري د پیسو نه اداء کولو مسؤلیت په خپله غاړه اخلي، د کوم مشتري په استازولۍ چې بانک یاد خط صادر کړی او نوموړی پیسې اداء نه کړي. په بدل کې بانک یوه اندازه کمېشن اخلي. ( Working Capital Management: p٤۰)

**اووم: د بانکي قرضو ډولونه او د شتمنۍ د څښتن تمویل**

د بانک تر ټولو مهم کار خلکو ته د هغوی د اړتیاوو، په ځانګړي ډول د سوداګریزو اړتیاوو د پوره کولو لەپاره د قرضو برابرول دي. بانک کله اوږدمهاله قرضې ورکوي، دا ډول قرضو ته په عربي ژبه کې «ائتمان طویل الاجل» او په انګریزي ژبه کې ورته (Long Term Credit) وایي او کله کله بیا لنډمهاله قرضې ورکوي چې عموماً تر دریو یا شپږو میاشتو پورې وي. دې ته په عربي

ژبه کې «ائتمان قصير الاجل» او په انگریزي کې ورته (Short Term Credit) ویل کیږي. (تقي عثماني:۱۱۷مخ)

له بانک څخه خلک د دریو موخو لهپاره قرض اخلي: (۱) د ورځنیو سوداگریزو اړتیاوو لهپاره قرض اخیستل، لکه د بیلونو ادائینه یا د تنخواوو د ورکړې لهپاره چې دې ډول ته یې (Over Head Expenses) ویل کیږي. (۲) د کاروبار د جاري مصارفو لهپاره، مثلاً د سوداگریزو توکو او اومو موادو یا نورو توکو د پېرنې لهپاره قرضې ترلاسه کوي. دې ته په عربي ژبه کې «رأس المال العامل» او انگلش کې (Working Capital) ویل کیږي. (۳) د لویو لویو چارو لهپاره قرض اخیستل، دې ته په عربي ژبه کې «تمویل المشارع» او انگلش کې (Project Financing) ویل کیږي. (تقي عثماني:۱۷مخ) لکه څرنگه چې پورته واضح شوه، د شتمنۍ د څښتن تمویل یا د کاروبار د ورځنیو مصارفو لهپاره پور اخیستل د قرضو یا د کوچنیو پورونو یو ډول دی او بانکونه، هغه که دودیز بانکونه دي او که اسلامي بانکونه وي، دا ډول لگښتونه پرې کوي. دودیز بانکونه دا ډول قرضې په سود ورکوي، مگر په اسلامي بانکولۍ کې، چې وروسته به هم ذکر شي؛ دا ډول پورونه بالاخره ددې لامل گرځي چې بانک د شتمنۍ له څښتن سره شریک شي او پور د تړون له پای ته رسېدو وروسته بانک له شرکت یا متصدي څخه گټه ترلاسه کړي. مفتي محمد تقي عثماني هم وايي چې د تمویل رأس المال عامل په تړون کې مشارکت او مضاربت په ځاني ډول شامليږي.

په عمومي ډول د تجارت او د سرمایې د مالک د تمویل یا د«تمویل رأس المال العامل» موخه دا ده چې په یو شمېر حالاتو کې د تجارتي ادارو مصارف ډېر زیاتیږي او د خپلو مصارفو د پوره کولو په خاطر قرض اخیستلو ته مراجعه کوي ترڅو په دې ډول د خپل ضرورت وړ اجناس وپېري. دغه کار ته په عربي ژبه کې رأس المال العامل او انگلش کې (Working Capital) ویل کیږي. نو

د شتمنۍ د څښتن تمويلWorking Capital Financing د مشارکت له لارې امکان لري او هم له دې لارې ګټه ترلاسه کولی شي. (نيازی:۱۹۵مخ)

په پورته دريو ډولونو قرضو کې دوهم ډول يې د شتمنۍ تمويل په موخه له بانکونو اخيستل کيږي چې عربي کې ورته رأس المال العامل ويل کيږي او انګلش ژبه کې د «Working Capital» اصطلاح ورته کارول کيږي. نو دوهم ډول يا متوسطې قرضې د همدې موخې لهپاره کارول کيږي ترڅو شرکتونه په لنډمهال کې له ستونزو راووځي او خپلې سوداګرۍ ته وده ورکړي.

په «تمويل رأس المال العامل» کې د ځانګړو معاملاتو تر کچې مشارکت او مضاربت ترسره کېدای شي. مثلاً بانک چې کومه پانګه ورکوي، په هغې دې ډوډۍ واخيستل شی، په هغې دې جامې جوړې کړل شي چې ګټه ترې ترلاسه شي او په دې کې بانک شريک دی. که چېرته د اومو موادو اړتيا وه، په دې کې بيا مرابحه هم کېدای شي. (تقي عثماني:۱۴٦ او ۱۴۷مخونه) دوديز بانکونه تمويل رأس المال العامل کوي، مګر د سود په بدل کې. مګر اسلامي بانکونه له شرکت سره تړون کوي. د تړون په پيل او پای دواړو وختونو کې د شرکت ټوله پانګه حکماً محاسبه کيږي.

په جاري کاروبار کې به دواړه لوري په خپل رضايت سره توکي قيمت کوي. په مروج مشارکت کې امام مالک(رح) په دې اند دی چې په شتمنۍ کې نغدي پيسې شرط نه دی، بلکې توکي او لوازم به قيمت کړي او شرکت کې به يې شمار کړي. نو په دې کې به بهتره دا وي چې امام مالک (رح) په مذهب عمل وشي، نو دواړه لوري به په شتمنۍ کې شريک شي او د يوې معينې مودې لپاره به د مشارکت تړون وکړي. د بېلګې په توګه، د شپږ مياشتو يا يو کال لپاره، هر وخت چې دغه موده تېره شوه، نو د کال په پای کې به ټول اجناس قيمت کړي او نغدو پيسو ته به يې واړوي، نو د قيمت په تعين کې به ګټه معلومه شي او خپلو کې به يې تقسيم کړي. که څه هم پخوانيو فقهاوو د پخواني شرکت په اړوند ويلي چې ګټه به تر هغه پورې نه ويشله کيږي، ترڅو

چې ټول لوازم او سامان آلات په نغدو پیسو نه وي بدل شوي. مګر راجح نظر اوسمهال دا دی چې په نغدو پیسو د اجناسو یا لوازمو بدلول شرط نه دی. په داسې حال کې چې په مضاربت کې بیا لازمه ده د ګټې له تقسیم څخه وړاندې به لوازم په نغدو پیسو بدل کړي، ځکه په حکمي توګه په نغدو پیسو د لوازمو اړول معلومه خبره ده. (نیازی:۱۹۵ او ۱۹٦مخونه)

یا په بل عبارت، په پیل کې د نوموړې تصدۍ یا شرکت ټولې شتمنۍ او ملکیتونه د طرفینو په هوکړه قیمت کیږي. د متصدي پانګه محاسبه کیږي او هغه پیسې چې د بانک له لوري د تمویل په توګه ورکول کیږي، یعنې د بانک پانګه دواړه په نوموړي قرارداد کې محاسبه کیږي. له هغه وروسته تصدي یا شرکت فعالیت پیلوي. د تړون لوري (بانک او متصدي) کولی شي چې د ٦ میاشتو، یو کال یا زیاتې مودې لپاره د مشارکت تړون وکړي. (ضریري: ۳۵۵مخ)

ورپسې د مودې له بشپړېدو وروسته سملاسي، بیا ځلي د یادې تصدۍ یا شرکت ټولې شتمنۍ او ملکیتونه د مخکې په څېر قیمت کیږي. د همدغه قیمت په اساس ګټه او زیان تشخیص او توزیع کیږي. البته د یادونې وړ ده چې قیمت کول د حکمي تنضیض (حکمي نقد ګڼل) په اساس ترسره کیږي. په داسې ډول چې عامل شریک (متصدي) د خپلې ټولې شتمنۍ او ملکیتونو قیمت ټاکي او مشخصوي، ورپسې د تمویلوونکي (بانک) ټول سهم چې د تصدۍ یا شرکت په شتمنیو او وسایلو کې موجود دی؛ تشخیص کیږي. له هغه وروسته متصدي د بانک سهم پېري. کله چې د تصدۍ یا شرکت ټوله شتمني او ثابت اجناس په حکمي ډول په نقدو تبدیل شول، د تمویلي بانک اصلي پانګه او منفعت تشخیص کیږي. بانک خپله اصلي پانګه او ګټه (که یې کړې وه) اخلي او د مشارکت تړون پای مومي. (ضریري: ۳۵۵- ۳۵٦مخونه)

که څه هم د مشارکت په تړون کې د ګټې د وېش تناسب ټاکل د بانک او متصدي ترمنځ د لوریو په توافق ترسره کیږي، خو په دې شرط چې د

تمویلوونکي د منفعت د فیصدۍ تناسب د هغه له اصلي پانګې څخه ډېر نه وي، ځکه د مشارکت په تړون کې د بانک له تمویل پرته ټوله شتمني او ملکیتونه د متصدي ملکیت دی او تولیدي فعالیت هم دده په غاړه دی چې فعال شریک ګڼل کیږي. خو بانک په فعالیت کې شریک نه دی او د غیر فعال شریک په توګه پېژندل کیږي. نو د غیرفعال شریک ګټه به د هغه له پانګې څخه ډېره نه وي. (ضریري: ٣٥٦مخ)

یا په بل عبارت، په دغه قرارداد کې متصدي له دوو جهتونو څخه ګټه ترلاسه کوي. یو د شریک په توګه او بل د مضارب په توګه. متصدی د مضارب په توګه په ترلاسه کړې ګټه کې خلاص لاس لري چې د طرفینو په رضایت کولی شي په هر تناسب چې وغواړي (هغه که د رب المال له اصلي پانګې څخه ډېره وي او که لږه) ګټه وټاکي. خو متصدي د هغې ګټې د تعیین په اړه، چې د شریک په توګه یې لاسته راوړي؛ له دې جهته چې هم په پانګه کې شریک دی او هم ټول فعالیتونه په یوازې ځان ترسره کوي، د شریک په توګه لاسته د راوړونکې ګټې فیصدي یې باید د پانګې جریان ته د غورځېدلې پانګې له تناسب څخه کمه ونه ټاکل شي. (ضریري: ١٥٦مخ)

د مثال په توګه، الف (مضارب) د (١٠٠٠٠٠) افغانیو تمویلي پیسو سره د ب (رب المال) او (٥٠٠٠٠) افغانیو خپلو پیسو سره تولیدي یا سوداګریز فعالیت پیلوي. په دې قرارداد کې دوه ثلثه د ب (رب المال) پانګه ده او الف په کې د مضارب په توګه فعالیت کوي، دواړه لوري د ګټې په تعیین کې خلاص لاس لري او په هر نسبت سره خپله پانګه ټاکلی شي. اما یو ثلث چې خپله مضارب پانګونه کړې ده او په یوازې ځان فعالیت کوي، یوازې همدی د ګټې مستحق دی، نو د الف (مضارب) د ګټې سهم باید له یو ثلث څخه کم نه وي. (ضریري: ١٥٦ او ١٥٧مخونه)

**مناقشه**

د شتمنۍ د ځښتن تمویل په دودیزو او اسلامي دواړه ډوله بانکونو کې شتون لري. ددغه خدمت په اساس د بانکونو له لوري تصدي یا شرکت حمایه کیږي. په اسلامي بانکونو کې د ګټې ډول د سودي یا دودیزو بانکونو سره توپیر لري. له دودیز یا سودي بانکونو سره د اسلامي بانکونو له لوري د وړاندې کېدونکې رأس المال العامل اسانتیا توپیر په دې کې دی، چې په سودي بانکونو کې د قرضې په ورکولو سره په مطلق ډول سود پیلیږي. مګر په اسلامي بانکوالۍ سیستم کې بیا د سود پرځای د مشارکت او مضاربت په طریقه ګټه او زیان دواړو کې بانک شریکېدای شي. بانک به لومړی له شرکت سره تړون کوي او د شرکت پانګه به تنضیض (نقدو ته اړول) کیږي. وروسته د تړون د مودې له پای ته رسېدو وروسته به هم د شرکت پانګه تنضیض کیږي. د ګټې په صورت کې به بانک ته ګټه او د تاوان په صورت کې به بانک په تاوان کې شریکیږي. په داسې حال کې چې په سودي یا دودیزو بانکونو کې، د بانک له لوري تصدۍ یا شرکت ته د پور د ورکړې له نېټې څخه سود چارج کیږي او که متصدي یا تصدۍ (شرکت) ګټه وکړه وکړه یا تاوان، مجبور دی چې بانک ته سود ورکړي.

**پایله**

د پورته څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسیږو چې د شتمنۍ د ځښتن تمویل یو ډول قرضه یا لنډمهاله پور دی چې د دودیزو او اسلامي دواړه ډوله بانکونو له لوري متصدي، فابریکې او شرکت ته ورکول کیږي.

په دودیزو بانکونو دا ډول قرضې د سود په بدل کې ورکول کیږي. متصدي مجبور دی د ټاکلې فیصدۍ له مخې، که یې ګټه کړې وه او که تاوان، بانک ته د پیسو د ورکړې سربېره، یوه اندازه سود هم ورکړي.

مګر په اسلامي بانکونو کې دا ډول قرضه د مضاربت یا مشارکت تړون ته نږدې یو ډول تړون دی. په دې معنی، چې مستقیماً مشارکت یا مضاربت نه

دی، بلکې د مضاربت او مشارکت له‌پاره لاره برابروي. په داسې ډول چې بانک د شرکت د ورځنیو ضرورتونو د پوره کولو له پاره پور ورکوي. لومړی ټرون کیږي. له ټرون وروسته د شرکت ټوله شتمني محاسبه کیږي. د ټرون موده به معلومه وي، کله چې د ټرون موده پای ته ورسېده، دوهم ځل له‌پاره د شرکت شتمنۍ محاسبه کیږي او د مخکې ټاکل شوې فیصدۍ له مخې اضافه ګټه د بانک او متصدي ترمنځ ویشل کیږي. البته هغه اندازه پیسې چې بانک لګولي دي، هغه به هم بانک ته ورکول کیږي. په همدې ترتیب که یې ګټه کړې نه وه، بانک په تاوان کې هم راشریکېدای شي.

ددې سربېره، دا ډول تمویل د لنډمهاله پور د خاصیت او د مشارکت او مضاربت په بڼو د ترسره کېدو سربېره، د مرابحې په بڼه هم ترسره کېدای شي چې د ګټې د ترلاسه کولو یوه اسلامي طریقه ده.

**وړاندیز**

د افغانستان علومو اکاډمۍ ته وړاندیز دی چې د شتمنۍ د څښتن تمویل طریقې له‌پاره د اسلامي بانکوالۍ د مرکز له لارې په افغانستان کې قواعد ایجاد کړي او افغاني بانکونو ته لاره پرانیزي چې د دودیزو بانکونو د سودي طریقې پرځای د مشارکت او مضاربت ته نږدې طریقې له لارې، چې دلته واضح شوه؛ بانکونو ته فرصت برابر کړي چې د شتمنۍ د څښتن د تمویل له لارې یې د هېواد له اقتصادي ودې سره مرسته کړې وي.

**ماخذونه**

۱ـ ضریري، عبدالمعبود. بانکداري اسلامي و شیوه های تطبیق آن در افغانستان، لومړی چاپ، د افغانستان علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۸.

۲ـ عثماني، محمد تقي. اسلام او جدید معیشت و تجارت، اداره معارف کراچي. ۱۴۱۴ه.ق.

۳ـ نیازی، محمد مصطفی. د بانکدارۍ مقایسوي حقوق، یار خپرندویه ټولنه: جلال آباد. ۱۳۹٦

۴ـ Financial Management. Chapter ۱۰ "Working Capital" available at: https://nscpolteksby.ac.id/ebook/files/Ebook/Accounting/Financial٪۲۰Management٪۲۰(۲۰۰۹)/۱۱.٪۲۰Chapter٪۲۰۱۰٪۲۰-٪۲۰WORKING٪۲۰CAPITAL.pdf [accessed: ۲۰۲۳-۰۳-۱۲[

۵ـ Lovely Professional University. Working Capital Management. Edited by: Dr. Tanima Dutta. EXCEL BOOKS PRIVATE LIMITED New Delhi. Available at: https://ebooks.lpude.in/commerce/mcom/term_۳/DCOM۵۰۵_WORKING_CAPITAL_MANAGEMENT.pdf

٦ـ The Basics of Business Finance. "Working Capital Finance". Available at: https://us.sagepub.com/sites/default/files/upm-assets/۵۰۰۵_book_item_۵۰۰۵.pdf [Accessed: ۲۰۲۳-۰۳-۱۲].[accessed: ۲۰۲۳-۰۳-۱۲[